سراج الحق ببرک زی ځدراڼ ۲۰۱۶/۰۶/۲۷

# د اسلامي غورځنګونو د کړکيچ سلوک،دوه ګوني متضاد چلند

## د خدايي خدمتګار او د حماس تر منځ يوه پرتلېزه څېړنه

دويمه برخه

د جرمني توبينګن پوهنتون د سياستپوهنې انيستيتوت
د توبينګن پوهنتون د نړيوال سياست او د سولې پلټنې څېړنپانه
د جرمني د حبهارډ کارل پوهنتون د نړيوال سياست، د سولې او کړکېچ څيړنې د نړيوالو اړيکو د مرکز ځانګه
څېړنوال : ښاغلى ميشايل هورترر
د تحرير هيات : ښاغلى توماس غوش
د څېړنې څېروونکى: ښاغلى اندرياس حزنکليور او ښاغلى فولکر غتبرګر
ژباړن : سراج الحق ببرک زی ځدراڼ

### ۴. د پښتنو غورځنګ خدايي خدمتګاران

دا دواړه څېړل او پلټل کيدونکي قضيې يا موضوعګانې د يو شانته تحقيقاتي فکري سيستم له لارې تعقيب کيږي: لومړى د اشغال په حالت کې تاريخي شاليد وړاندې کيږي. دا به د غورځنګ منشه، سرچينه، پيل او ځرنګوالي تعريف کړي او په مختصر ډول د هغوي د مشرولي، د خبرواترو د اړيکو جوړښت تشريح کړل شي. د دې تشريحي او توصيفي برخې ورسته د غورځنګ دريځ د موضوع له لحاظه په شوني محتوا کې د جهانشموليت او انحصاريت نښې نښانې تحليل تر سره شي. په پاى کې د غورځنګ د کړکيچ چلند او کړنې تشريح کيږي او بيا به د تحليلونو پايلې مشخصې کړل شي.

### ۴. ۱ پښتانه په برتانوي هند کې

د پښتنو سيمه د هند د نمي وچې په شمال لويديځ کې د ۱۸۴۸ کال راهيسې د انګريزانو په اشغال او حاکميت کې ورغله. دوى د پښتنو دغه سيمه په Semiautonome يا د برتانوي هند د سرحد ساتنې نيمه خودمختاره قبايلي سيمه ( tribal areas ) او اشغال شوي سيمه ( settled districts ) په نامه وويشله. په عين وخت کې دا ورستي ياده شوي اشغالي سيمه په بشپړه توګه په اداري او حقوقي برخو کې د پنجاب د والي په اختيار او کنټرول کې ورکړل شوه.
په ۱۸۹۳ کال کې د انګريزانو له خوا د افغانستان په وړاندې له دوو بايللي جګړو څخه ورسته د ډيورنډ کرښه د برتانوي امپراتورى او د افغانستان د امير ترمنځ راکښل شوي ده. په داسې حال کې چې د ډيورنډ کرښه وچه د پښتنو ترمنځ او د پښتنو پر سيمو باندې تيريږي.( vgl. Mera 1995:150;Banerjee 2000: 24 )
په ۱۹۰۱ کال کې اشغالي سيمه او قبايلي سيمه د North West Frontier Province ( NWFP ) په نامه سره يو ځاى کړل شوې او مستقيماً د انګريزانو د امپراتورى تر کنټرول لاندې راوستل شوې . (Banerjee 2000: 43)[1](۱۴)

[1] 14 . د قبايلي سيمو tribal areas او اشغالي سيمو settled districts بيلتون يا ويش تر اوسه همداسې پاتې شوي دى


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارى ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالې د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

پښتونخوا يا ( NWFP) د دوارو دولتونو، د برتاتوي هند او د افغانستان دولت ترمنځ يو ډول ډبرين ديوال او اوسپنيزې پردې په څيرجوړه شوه. ( ebenda 24) په همدې ترتيب د پښتونخوا سيمه د افغانستان له دولت څخه بيله کړل شوه او همداسې د پښتنو دا سيمه له درست د هندوستان څخه هم پرې کړل شوه.( vgl. Khan 1995: 6) سربيره پر دې برتانوي کولونياليستي استعماري ځواک د خپل دې ناوړه عمل سره پښتانه ډېل يا غبرګ سره بيل کړل او په انزوا کې وساتل شول او له دې سره هممهاله د ځايي اوسيدونکو وګړو د آزاد تګ راتګ مخه ځښته ډيره محدوده کړل شوه. په عين وخت کې کليوالي سيموته د ورتلونکو خلکو ليدنې کتنې او د خلکو په تګ راتګ باندې هم بنديز ولګلول شو. همدارنګه د دوی هر ډول اړيکي له بهرنۍ نړۍ سره کنټرول او سانسوريدلي (. Benerjee 2000:45 ; Bakshi 1991 : 104)
په پښتونخوا کې د مسلمانانو برخه ۹۰ سلنه وه او د اسلام سپيڅلي دين د پښتنو په ورځني ژوند کې خورا ډير مهم رول لوبوي. (vgl. Banerjee 2000:9;Bakshi:1991;Tandulkar 1967 :3)
د پښتنو د ژوند په ټولو ورځنيو چارو او راکړه ورکړه کې د دوی د ارزښتونو دوديزه کوډکسونه او د پښتنو د توکمي اخلاقي کړنې قانون پښتونولي خورا ستره مانا او لوی اهميت لري. پښتونولي د اسلامي قوانيونو او د پښتني دودنو يوه ګډه مخلوط قانونغونده ده ( Vgl. Banerjee 2000:20).
د دې قانون پر بنسټ بدل او پور اخيستل په دوی کې له وياړه ډکه چار او مسووليت ګڼل کيږي. څه شي چې په دوديزه توګه زياتره وختونه د کورنيو او قبيلو ترمنځ د خونړيو دښمنيو لامل ګرځي، معمولاً وسله هم په کې کارول کيږي. خوسره د دې ټولو پښتنو د انګريزانو په خلاف خپله چريکي جګړه او خپل وسله وال مقاومت جاري ساتلي وو.
پښتانه په انګريزانو کې د جګړو پرمهال په ځانګړي ډول سرسخته او د جګړې تړيو خلکو باندې مشهور ول. ( vgl. Johansen 1997 :56 f) اقتصادي او ټولنيز حالات په دې ولايت کې د اشغال له کبله ځښت ډير زيامن شوي وو. او د تاوتريخوالي يا د تشدد رامنځ ته کولو لپاره يې ډيره ښه زمينه مساعده کړې وه: د ټولي هندي نيمي وچې په پرتله دا سيمه خورابيوزله سيمه وه. د انګريزانو د نيواک له امله حالات نور ه هم په ډرماتيک ډول ډير اغيزمن او ناوړه شوي وو. ( vgl. Vermani 1983 : 49 f)
دا مهال فقر او لوږه په پښتونخوا کې د خپل جغرافيايي موقعيت امله ( د دولت له ساحي اوحاکميته وتلي سيمه) ( Exclave) په پرتليز ډول د يوې ځانګړې جګې دولتي مالي ورکولو پېټې د ورلو له وجهي رامنځ ته شوي وه. د دې سربيره تر ډيره حده پوري په پشپړه توګه د زده کړې او تعليم د نشتوالي سره مخامخ وه. د پښتنو په کليو کې اصلاً ښوونځي شتون نه درلود. د نالوستو کچه د ۹۰ سلنې څخه جګه وه او په مورنۍ ژبه د زده کړې شونتياوې اصلاً په بشپړه توګه شتون نه درلود. (vgl. Bakshi 1991 :2;Banerjee 2000: 209 ;Tendulkar 1967: 50 ) دې حالاتو ته په کتو سره په ۱۹۲۹ مو کالونو کې د پښتنو وضعيت بې حده ډير ناهيلي کونکي او له مايوسيت سره مخامخ وو.

## ۴ . ۲ د خدايي خدمتګار غورځنګ پيدايښت

په ۱۹۲۹ کال کې په داسې يو شاليداو چاپيرال کې د خدايي خدمتګارانو غورځنګ رامنځ ته شو.[2] (۱۵)د دې غورځنګ بنسټ د ښاغلی عبدالغفار خان له خوا کيښودل شو. هغه د خپلې عقيدې او مفکورې پربنياد دې غورځنګ ته شکل او فورم ورکاوه. د غورځنګ تر منځليدوپوري يعنې د پاکستان رامنځته کيدو پورې مشرې او لاربښوونه

۱۵ .په دې څيرنه پانه کې د خدايي خدمتګار په، خ خ نښه کيږي او د خدايي خدمتګارو سره مترادف استعماليږي او د غورځنګ نوم

[2] په مفرد ډول کارول کيږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

کوله. په ۱۸۹۰ کال کې عبدالغفارخان د پېښور د اتمانزو په سيمه کې زيږيدلي دی [3] (۱۶). د هغه مور او پلار په دې توانيدلي وو، چې ده ته او د هغه مشر ورور ته د ښې ښووني او روزنې تعليمي شونتياوې برابرې کړي. خان يې د سيمې عالي ليسې يا د ايډروډ ميشن ښوونځی ته وليږلو. عبدالغفار خان ښوونځي ته له تللو مخکې قران کريم له ياده حفظ کړي وو. مور او پلار يې هغه ته د يو با ايمانه مذهبي مسلمان ښوونه روزنه او تربيت ورکړي وه. په داسې حال کې چې د هغه ورور په لندن کې د طب پوهنځی محصل وو، عبدالغفار خان په خپله خوښه په پښتونخوا کې پاتې شوی وو.

په ۱۹۱۰ کال کې ده په خپله سيمه کې د انګريز انو له کنټروله وتلي د غير حکومتي لومړني آزاد ښوونځي بنسټ کيښود. خان له دې تاريخ ورسته په پر له پسې کالونو کې د سيمې په کچه د ديني زده کړو مدرسې او د عمومي علم، پوهې د زده کړې لپاره د ښوونځيو بنستونه کيښودل. څو خلک د علم او تعليم په پوهه سمبال شي او د دوی د ورځني ژوند مسايلوته ځوابونه ومومي. انګريزانو د خان دې ډول فعاليتونو په وړاندې خپله بې اعتمادي، بې باوري او ضديت ښکاره کړو.

په ۱۹۱۹ کال کې د انګريزانولخوا خان او د هغه پلار بنديان کړل شول. عبدالغفار خان له بنديخاني څخه تر خوشي کيدو ورسته د ( خانانو خان) لقب وګټلو.

په ۱۹۲۶ کال دی د دويم ځل لپاره کونډ شو. خان پريکړه وکړه، چې له دې ورسته به دی بل واده ونه کړي او هغه وويل، دی به خپل ځان د خپل هيواد د فداکاريو لپاره او وياړنو د پاره ځار کړي.

په ۱۹۲۶ کال د خپلو فعاليتونو لا موثريت لپاره ده د ،، پښتون جرګه ،، په نامه يو سياسي ګوند بنسټ کيښود. دا ګوند د ټولنيزو سمونونو، ريفورمونو او د سيمه ييزه خپلواکې اداري غوښتنو لپاره رامنځ ته شو او ورسره يې د ،، پښتون ،، په نامه يوه رساله يا مجله هم خپره کړه. په پښتو ژبه کې دا لومړنی اخبار وو، چې خپور شو. په دې اخبار کې ټولنيزې، سياسي او مذهبي موضوګانې خپريدلې او د نوي ګوند مفکوري په کې وړاندې کيدلې. د ګوند د نظرياتو او مفکورو د تطبيقولو او د ټولنيزو چارو تر سره کولو لپاره رضاکارانو ته اړتيا پيدا شوه. له دې امله په ۱۹۲۹ کال کې د خان لخوا د ،، خدايي خدمتګار تحريک ،، بنسټ کيښودل شو. په پيل کې دا يواځې يو مذهبي او ټولنيز غورځنګ وو، چې بيا ورسته د يوې مهمې کليدي پيښې له امله سياسي کړل شو.

په ۱۹۳۰ کال د اپريل په درويشتمه نيټه کله چې باچاخان او د هغه پلويان او ملګري د يوې غوندې په ترڅ کې بنديان شول. د نيول کيدلو څخه ورسته په پېښور کې د خدايي خدمتګار او د کانګرس ګوند د پلويانو لخوا يو ناڅاپه سوله ييز، بې تشدده او پرته له زور زياتيو څخه احتجاجي لاريون يا پروتيسټ ترسره شو. نيواکګر استعماري ځواک د هند وسله وال پوځ ته امر او هدايت وکړو، چې لاريون د تشدد او د زور زياتيو له لارې منحل کړئ. اما د هندپوځ د ډزو کولو د امر څخه ډډه وکړه او بالاخره له دې کبله د انګريزانو پوځي ګادی راووتل او د عامو خلکو پر وړاندې بريد وکړ او ډزې پيل کړې. له دې امله سلګونه خلک ووژل شول او ټپيان کړل شول .په دې لړ کې سره د دې وسله وال بريده بيا هم بې وسلې لاريونکوو خپل سوله ايز پروتيسټ ته دوام ورکړو او د لاريون د منحليدوڅخه ډډه وکړه.

(vgl. Bakshi 1991: 101f ; Johansen 1997: 62; Khan 1969: 103 )

د دې پيښې د پيښيدو له امله او د انګريزانو د ناوړه ظلمونو او سروهوونکې اعمالو په وجه د خدايي خدمتګارانو غورځنګ يو سياسي تحريک وګرځيد. دوی د برتانوي پردې نيواک په وړاندې د خپلواکې هڅې پيل کړې. دوی دې موخې او ارمان ته د رسيدو لپاره د هند کانګرس ګوند سره يو اتحاد اعلان کړو.( ۱۷)[4]

( vgl. Banerjee 2000: 69; Raumu 1991 : 44 )

---

[3] ۱۲. د عبدالغفارخان د ژوند په اړه ليکنې د vgl. v.a. Khan 1969 ;Easwran 1984 ; Bakshi 1991 ; Ramu 1991; Ramu 1992

[4] ۱۷ . د کانګرس ګوند په څلور څلويښتمه ناسته کې د خدايي خدمتګار (خ خ) سره په ګډه د عدم تشدد د مفکورې پر بنسټ د يو خپلواک او ناويشل کيدونکې متحد هند موخه اعلان کړل شوه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

دا اتحاد تر هغي ورسته رامنځ ته وشو، کله چي له دوی سره نوري اسلامي ډلي ټپلي په مرستي او همکاري کي پاتي راغللي او د همکاريو او مرستو نه انکار وکړو. [5] ( ۱۸ )
د کانګرس ګوند سره د باچا خان ګوند د پيوستون له امله په پښتونخوا يا ( NWFP ) کي د کانګرس ګوند د استازي په سترګه کتل کيده.( په داسي حال کي چي د خدايي خدمتګار غورځنګ له دوی سره يواځي د يو خپلواک رضاکاره غورځنګ په څير مرسته کوله ( vgl. Banerjee 2000:69 f).

## ۴ . ۳ د خدايي خدمتګار غورځنګ مشرولي او د افهام او تفهيم اړيکي

مخکي د تر دې چي د خوځښت د ځان انځور او پر خپلځان اعتماد د سرچينو په مرسته تحليل او تجزيه کړل شي. لومړي بايد د مهمو سرچينو په مرسته د تحريک د مشرولی جوړښت او د افهام تفهيم په اړه يو عمومي نظر وړاندي کړل شي. د خدايي خدمتګار د مشرولی جوړښت د ښکته نه پور ته د سلسلي مراتب له اړخه يوه اندازه سختګيره او يو ډول د پوځي جوړښتونو په څير تنظيم شوي وو. په دې وخت کي باچاخان د تحريک د سرلاري يا مشر په توګه د دې سلسلي مراتبو په لوړه څوکه کي درېدلي وو. باچا خان د خپل متواضع عاجزانه شخصيت، ساده ژوند بڼي له امله او په وسله وال پوځ کي د خپلي دندې تر سره کولو له امله يو مجبوب، مجرب کريشماتيک شخصيت ګرځيدلي وو. هغه به په عام محضر کي عام خلک په ځانګړي ډول د خپلو خبرو له لاري ځانته راماتول. د هغه په ويناوې کي او د کړنو په درک کولوسره اوريدونکو به په ريښتني او سمه صحيح توګه ځان له ده سره عملاً په يواتحاد او يووالي کي حساسولو. په داسي موقعيت کي به خلکو د ته د يو ځانګړي پيغام راوړونکي يا د يو الهام ښوونکي کوليټي لرونکي شخصيت په څير کتلو. ( vgl. Banerjee 2000:84; 125 ff)
د خان په ويناوو کي يوه ستره مانا پرته وه، دا مانا د غورځنګ د ودې او پرمختګ په اړوند په څيرنيزو ادبياتو کي يوه اندازه جنجالي پاتي ده: د غورځنګ د وسعي اغيز خپرولو لپاره په ځانګړي ډول د خان ويناوې د خدايي غورځنګ د پيل پرمهال په ښکاره توګه د افهام او تفاهيم او خبرو اترو يو مهم فورم ګڼل کيده. څومره چي شوني وه، په يوه وخت کي ډير خلک د غورځنګ د مفکوري او نظرياتو سره نږدې کيدل. [6] ( ۱۹) له دې کبله اوس د خان اغيزناکي ويناوې د لاندي تحقيقاتو او پلټنو اصلي سرچيني او توکي جوړوي [7] ۲۰ .

---

۱۸. د (خ خ) غورځنګ لومړي خپل مخ ميلم ليګ ته وروګرځاوه، اما د انګريزد استعماري، تسلط او واکمنۍ څخه ګټه اخيستوونکي دې ته چمتو نه وه، چي د بې عدالتي په ضد را پا څيدلي مقاومت او غورځنګ سره مرسته او همکاري وکړي. همدارنګه نورو (پنجابي) اسلامي تنظيمونو د (خ خ ) تحريک سره د ملاتړ انکار وکړو .

(vgl. Ramu **1992: 210)** **(vgl. Banerjee 2000: 69).**

5

[6] ( ۱۹ ). د ده ،، پښتون ،، اخبار، مجله او نور ليکلي شوي سرچينې په ټولنه کې د لوړې نالوستيتوب کچې له امله د خپل پراخ .وسعي اغيز غورولو کې ډېر برياليي نه وه.

[7] ( ۲۰ ). په ۱۹۹۲ کال کې د ښاغلي رامو لخوا په يوه کتاب کې يوه ستره شميره د خان ويناوو انګليسي ژبه ته ژباړل شوي دي. دغه څيرنيزه پانه د هغو ويناوو پربنسټ، چې په ۱۹۳۱ کال کې په صوبه سرحد يا پښتونخوا کې بيان او ويلي شوي دي، محدود يږي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزي بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ

## ۴.۴ د خدايي خدمتګار غورځنګ موخې او د موضوع له لحاضه مهم ټکي
### ۱.۴.۴ . د خدايي خدمتګار غورځنګ پر خپلځان او نفس باورمنتوب
د کومو ارمانونو او موخو لپاره چې د خدايي خدمتګاران غورځنګ درېدلي وو، هغه د دوی په لوړه يا قسم کې په ښکاره توګه پېژندل کيږي. د ( خ خ) غورځنګ هر نوي نوماند غړی مجبور وه،دا لوړه په ځګه غږ سره ولولي،څو د غورځنګ غړيتوب ترلاسه کړي .

„I am a Khudai Khidmatgar , and as God needs no service, but serving his creation is serving Him, I promise to serve humanity in the name of God.
I promise to refrain from violence and from taking revenge. I promise to forgive those who oppress me or treat me with cruelty. I promise to refrain from taking part in feuds and quarrels and from creating enmity. I promise to treat every Pathan as my brother and friend.
I promise to refrain from anti-social customs and practises. I promise to live a simple life, to practise virtue and to refrain from evil. I promise to practise good manners and good behaviour, and not to lead a life of idleness. I promise to devote .at least two hours a day to social work.” (Khan 1969: 97)

د خدايي خدمتګار لوړه
زه يو خدايي خدمتګار يم او څنګه چې الله تعالی ته د خدمت ته اړتيا نشته، خو د خدای تعالی خدمت د هغه مخلق ته خدمت دی. زه ژمنه کوم چې د الله تعالی په نامه ټول بشريت ته خدمت وکړم. زه ژمنه کوم چې له تاوتريخوالي يا تشدد او همدارنګه د بدل اخيستلو ځخه ډډه کوم. زه ژمنه کوم هغه څوک چې پر ما ظلم او زور کوي وبښم. زه ژمنه کوم چې د تربګنيو دښمنيو، جګړو او شخړې ځخه ځان وساتم او په کې ورګډ نه شم او له دښمنيې د رامنځته کولو ډډه وکړم. زه وعده کوم چې د هر پښتون پټان سره لکه ورور او ملګری چلند ولرم. زه ژمنه کوم، چې پر ضد د ټولنيز ناسمو رواجونو، دودونو او د ستورونو اوسم. زه ژمنه کوم، چې ښه اخلاقواو ښه چلند، ښه تمرين شوای خوی او خاصيت ولرم. زه ژمنه کوم چې يو ساده فقيرانه ژوند ولرم د ټنبلي ځخه ځان وساتم او ژمنه کوم، چې د ورځې لږ تر لږه دوه ساعته ټولنيزو کارونه وقف کړم.
الله تعالی خدمت ته ضرورت نه لري، د خدای خدمت، د خدای مخلوق يا ټول بشريت ته د خدمت کولو له لارې تر سره کيږي. عدم تشدد، ښښه، وروروالي، اتفاق،يووالي،ساده توب، ټولنيزې چارې دا ټکي د لوړې مرکزي مهم عنصرونه جوړوي. په زغرده او ځانګړې ټينګار سره ويل کيږي، چې د ټول بشريت لپاره خدمتونه کول. دلته په ښکاره د جهانشموليت عنصرونه د پيژندلو وړ ګرځي. د دې لوړې يا قسم ( oath) په څنګ کې بيا په شفاهي ډول په قران مجيد باندې هم قسم ورکول کيده.
د خدايي خدمتګار غورځنګ هر يوغړي ژمنه ( pledge) په ليکلي بڼه کې د يوې فورمې په شکل کې هم لاسليکول. د دې ژمنليک په يوه جمله يا غوندله کې په دې ترتيب ليکلي شوي دي (vgl. Banerjee 2000:73 .)

“I shall serve humanity alike and my object will be to win freedom for my country and my religion”
(Khan, zitiert nach Ramu 1992: 6). ( vgl. u.a. Bakshi 1991 : 70 )

زه به د بشريت خدمت يو شانته وکړم او زما موخه به داوي ،چې خپل هيواد ته خپلواکي ګټل او خپل مذهب ته خدمت کول وي. ( رامو، د خان له خولې په ۱۹۹۲ : ۶ پاڼه ليکي) ( بکشي په ۱۹۹۱ : ۷۰ پاڼه کې نور وګورئ).
په دې کاغذي لاسوند کې د خپل هيواد او د خپل مذهب د خپلواکۍ د پاره مبارزه موخې ته درسيدو په لاره کې مستقيماً په ليکل شوي بڼه کې له ټول بشريت سره په يوه مناسبه بڼه کې د خدمت کولو ارتباط ورکول کيږي. د خپل هيواد خپلواکي لپاره مبارزه او د خپل مذهب د خپلواکۍ د پاره مبارزه نيغ په نيغه بشريت ته د خدمت کول د اړينو امري توکو په حيث تړاو ورکول کيږي. دا هغه څه دي، چې غورځنګ بشريت او انسانيت ته په نړيوالو ابعادو کې ځان مسوول احساسوي او پر خپلځان د باور منتوب يو انځور ښيي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په خير و لولئ

د باچاخان په ویناوو کې یوه تر ټولو غوره او مهمه موضوع ټول بشریت ته خدمت کول او انساني کرامت ته درنښت لرل جوړوي. که څه هم د هغه لخوا په ویناوو کې په دوامداره توګه پر دې موضوع باندې خبرې کولې هغه زیاتره دغې موضوع ته غالباً له ډیره نږدې نه د لوړې د لومړې بند سره تړاو ورکاوه.

„The service of man is the service of God. He who served the creatures of God, served God. He who is a Khidmatgar] of the creatures of God, is also a Khidmatgar of God. The Hindu, Sikh, Mussalman and Christian are all the creatures of God." (Khan, zitiert nach Ramu 1992: 23).

د انسان خدمت د خدای خدمت دی هغه څوک چې د خدای د بنده ګانو خدمت کوي، هغه د خدای خدمت کوي. نو هغه یو خدايي خدمتګار دی. هندیان، سیکان ،مسلمانان او عیسویان ټول د الله تعالی مخلوقات یا بنده ګان دي ( د خان له خولې، رامو لیکلي په ۱۹۹۲ : ۲۳ پانه وګورئ) .

دغه انګیزه، د خدای ( ج) ټول مخلوق ته خدمت کول، د خدای تعالی خدمت دی، دا موضوع په پرله پسې توګه او یا کله په لږ توپیر سره د خان په ویناوو کې راښکاره کیږي. خان په خپلو ویناوو کې تل ویلي، چې د ټولو ولسونه خلک او مذهبونه د خدای تعالی مخلوقات دي. خدمت کول یواځې تر مسلمانانه پورې محدود

نه پاتې کیږي. دلته دا روښانه کیږي، چې خان د مذهبونو په ګډو مشتراکاتو باندې ټینګار لري. په داسې حال کې چې تفرقې، بیلوالي شاته غورځول کیږي. د خان په اند،دی مذهبونه او ولسونه یوه ګډه اجتماع بولي،چې د دوی اساس او ډېرین بنسټ خدای تعالی پورې تعلق لري او هغه د انحصاریت ټولو ډولونه او فورمونه ردول.

(vgl. Ramu 1992: 23, 57ff, 71, 157)

مذهبونو او کولتورونو ته په کتو سره خدمت کولو او مرستې کولو ته چمتووالي له توپیرونو پرته ترسره کیدای شي په دې اساس غورځنګ پرخپلځان او نفس باندې باورمنتوب ثابتوي او دوی د مظلومانو، غریبانو او بېوزلو خلکو مرستندویان دي:

We [die Khudai Khidmatgars-Bewegung, Anm. d. Verf.] have stood to help the oppressed, we wish to help the poor. We give salvation to the oppressed from the tyrants. We wish to clothe the poor and the naked." (Khan, zitiert nach Ramu 1992: 49)

موږ د خدايي خدمتګار غورځنګ د مظلومانو سره د مرستې لپاره دریدلي یو، موږ غواړو چې د بیوزلو سره مرسته وکړو او بربنډ خلک کالي ولري. ( د خان له خولې، رامو لیکي په ۱۹۹۲ : ۴۹ پانه وګورئ)

خان د خپلې مذهبي دندې په ترسره کولو کې د دې پروا نلرله، چې مظلومان کوم مذهب پورې اړه لري:

The Prophet teaches us to help the oppressed people and destroy the tyrants. Today the Hindus, Muslims, Sikhs, Parsis and Christians are the oppressed people and the tyrant is the Government, which has deprived us all our rights in our country. The Muslims should help the oppressed people, if they want to lead an honourable life in this world." (Khan, zitiert nach Tendulkar 1967: 86).

رسول د خدای موږ ته تدریس کوي، چې د مظلوموخلکو سره مرسته وکړئ او ظالم له منځه یوسئ. نن هندیان، مسلمانان، سیکان،فارسیوانان او عیسویان مظلوم ولسونه دي او دې ظالم دولت موږ په خپل هیواد کې له خپلو ټولوحقوقو بې برخې کړیو. مسلمانان غواړي د مظلومو خلکو سره مرسته وکړي. که هغوي غواړي چې په دې دنیا کې د درنښت سره ژوند ولري. ( د خان له خولې ښاغلی ټندولکر لیکي په ۱۹۶۷ :۸۶ پانه وګورئ)

د مظلومانو په استعمالو یا استخدامولو کې هم د ظالمونو هویت پیژندنه هیڅ رول نه لوبه وي، دا سمه ده،خو :

(…) to oppose even a Muslim if he is an oppressor, (…) to contend an Hindu who is tyrannical and to resist any Jew who is cruel. (…) And if the tyrant is an Englishmen it is their [KK's, Anm. D. Verf.] duty to stand up against them." (Khan, zitiert nach Ramu 1992: 59)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څیر و لولئ

د یو مسلمان سره مخالقت، کله چي هغه یو ظالم وي، د یو هندو په وړاندې ودریږي، کله چي دی یوظالم وي او د هر یهود په وړاندې مقاومت وکړي.کله چي دی ظلم وی او که ظالم پیرنګي یا انګریز دی. دا د ستاسو دنده ده، چي د هغوي په وړاندې ودریږي ( د خان له خولې رامو لیکي په ۱۹۹۲ : ۵۹ پاڼه وګورئ)
د خان دریځ او نظریه په لنډه توګه خلاصه کیدای شي او په دې ډول جمعبندي کیدي شي. مقاومت د ټولوظالمانو په وړاندې، د ټولو مظلومانو سره مرسته کوي. په دې ترتیب سره د دوی د هر یوه مذهب او ملي هویت خپلواکی ته رسیږي.
خان د خپل تحریک ټولنیزي او سیاسي غوښتني او چارو ته د جهانشمولیت په پوهاونه کي توجیه ورکوي.که څه هم دی تل په دې هڅه کي وو، چي د خپلو اوریدونکو سترګي د ټولني ټولنیز اړینو اړتیاوو ته، د خلکو لوږې ته، ناروغیو ته، د کالیو کمښت ته او د تعلیم نشتون ته خلاصي کړي. خلک ورته ویښ کړل شي او ولس د دغو اړتیاوې په لمنځه وړلو کي مرسته وکړي. د ټولنیزي فعالیتونوساحه، د ټولني د سمون په ډګر کي د غورځنګ اساسي، بنسټیزي موخې او انګیزې پیژندل شوي دی (vgl. Ramu 1992: 25, 33, 40, 61, 123 f).

۲.۴.۴ د خدایي خدمتګار غورځنګ لیدلوري د کړکیچ د موضوع او د کړکیچ د مخالفینو په اړه
د خان په وینااوو کي ګڼ شمیر داسي بیلګي شته، چي دی په کي د ارادې، د دندو مسوولیت او د موخو بیان څرګندوي. لکه خپل هیواد خپلواکه کړئ او خپله خپلواکی بیرته ترلاسه کړئ (vgl. Ramu 1992: 54, 123, 142 147.)
خان په خپل هیواد کي واکمني او خپلواکی ترلاسه کولو ادعاوې د ټولو ولسونو سره د خدای له خوا په ورکړل شویو خود مختاري او د خود ارادیت حقونو په اډانه کي توجیه کوي:

„God has given a country to Pakhtuns also. The country which is given to the Japanese is ruled by the Japanese. Similarly the Germans. (…) As this country is ours, we shall have malik (ownership) of it." (Khan, zitiert nach Ramu 1992: 35ff)
الله پاک پښتنو ته یو هیواد ور کړي دی. همداسي یو هیواد جاپانیانو ته هم ورکړي دی. په دې هیواد کي د جاپانیانو واک یا د دوی حکومت چلیږي. همداراز جرمني درواخله، څنګه چي دا هیواد زموږ ( پښتنو)دی، موږ باید په دې هیواد کي واکمن وواسو یا دا وطن زموږ دی او مالکیت خپل ولرو. ( د خان له خولې ښاغلی رامو لیکي په ۱۹۹۲ : ۳۵ پاڼه او نوري پاڼي وګورئ).
د خان په اند، د الله پاک له خوا د نړی ټولو ولسونو ته دا حق ورکړل شوي دی، چي خپل هیواد او د خپل هیواد معدني زیرمي په خپل واک او اختیار کي ولري. په داسي حال کي د ولسونو ملي هویت او مذهب بیا په دې برخه کي ډیره لږ اړیکه لري. دا چي دلته اوس خبره د پښتنو د هیواد ده، دا د ټولو پښتنو ایماني وجداني دنده ده، چي دا هیواد له پردي اشغال څخه آزاد کړي:

„Brethren, this country belongs to us all; therefore, it is the duty of us to liberate it. We should liberate our country from the slavery" (Khan, zitiert nach Ramu 1992: 44).21[8]
ورونو، دا هیواد زموږ ټولو پوري اړه لري، له همدې کبله دا زموږ دنده ده، چي خپلواک یا آزاد یي کړو.موږ باید خپل هیواد له غلامی څخه آزاد کړو ( د خان له خولې ښاغلی رامو لیکي په ۱۹۹۲ : ۴۴ پاڼه کي وګورئ) (۲۱ ).

---

۲۱. خان د ورڼو یا ورورولي ټکي د اسلامي اخوت او ورورګلوۍ د پاره استعمالولو، په خپلو ورستیو وینااوو کي په صریح توګه د خور یا ښځي څخه خبري کړي دي. د خان په اند، د اسلامي شریعت په قانون کي د نارینه او ښځینه حقوقو سره مساوي چلند کیږي. له همدې امله د خدایي خدمتګار تحریک کي ښځي برابر حقوق درلودل او ښځي غړیتوب درلود .

[8] (vgl. Banerjee 2000: 97ff).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

خان خپلو اوریدونکو ته نه یواځې د یو پښتون په حیث، بلکې د یو مسلمان په توګه هم خبرې کولې .

„If we call ourselves Muslims it becomes our duty to make our country and our religion free because God has not created the Muslims to become slaves” (ebenda: 92).

که موږ ځانونه مسلمان بولو، دا زموږ فرض ګڼل کیږي یا دنده پیژندل کیږي، چې خپل هیواد او خپل دین آزاد کړو، ځکه الله پاک مسلمانان نه دي پیدا کړي، چې غلامان واوسي.

خان خپل ټول پام د هیواد خپلواکۍ ته او په عین وخت کې مذهبي خپلواکي وقف کړي وو، په دې اساس دا د ده عقیدوي، ایماني وجداني دنده وه. سره د دې چې د کړکیچ د راتلونکي لیدلوري په اړوند نظر تر ډیره بریده د مذهبي کتګوري په بنسټ کې ټاکل کیده. مګر بیا هم هیڅ ډول د خپل مذهب د لوړوالي په ادعاووی کې مبالغه نه لیدل کیدې. د جګړیزې شخړې په بهیر کې د انګریزي استعماري نیواکګر ځواک د کړکیچ د یو مخالف لوري په حیث دا په ښکاره لیدل کیده، چې خان د بې عدالتې، ناروا او ظلم څخه ډیر سخت کړیدو اود انګریزانو تیروتنې سختې محکوموليِ. ولې بیا هم هغه د عیسویانو یا د انګریزي ولس په وړاندې په عمومي توګه توندې، نادریزه هڅوونکو ویناوو څخه ډډه کوله .هغه به په ډګر او زغرده ویل، چې دا انګریزان دي، چې زموږ هیوادیې اشغال کړی دی.
(vgl. Ramu 1992: 162) und „who has ruined our religion, Islam and the Musalmans“ (Khan, zitiert nach Ramu 1992: 124).

دوی زموږ مذهب، اسلام او مسلمانان تباه کوي. ( د خان له خولې لیکې رامو په ۱۹۹۲ کال ۱۲۴ تر ۱۶۲ پاڼې وګورئ)

له همدې امله انګریزان ، Firangi ،، پرینګیان بلل کیدل [9]. (۲۲)پرینګیان د هندیانو، پښتنو همدارار د کانګرس او د خدایي خدمتګار غورځنګ ګډ دښمنان دي. (vgl. ebenda: 54, 125)

د انګریزانو د وسله وال پوځ یو ځلې خان “the army of Satan „ د شیطان پوځ په نامه یاد کړي وو.

(ebenda: 75)په مقابل کې به د خدایي خدمتګار غورځنګ انګریزانو ته ویل، چې دا د خدای پوځ دی .

او په دې ډول به ځواب ورکول کیده.

په واقعیت کې دا ډول سختې، توندې او نادریزه تبلغاتي خبرې په یوه ورځ کې د خان په دوو ویناوو کې څرګندې شوې دي. که څه هم خان په خپلو مخکنیو او ورستنیو ویناوو کې انګریزي پوځ ته د شیطان پوځ له خطاب کولو څخه ډډه کړې. داسې یو مورد چې په هغه کې خان د،پیرنګي،یا،انګلیش مین،، “Englishmen„چې په پر نسیب کې د شیطاني مانا ورکوي. کارولې وي. شتون نلري .

خان به د دښمن توری ( enemy ) ځښته ډیر کاروالو که څه هم دغه توری په نامحدود ډول او په مستقیم ډول د هیواد اشغالو او یا غصبولو د څرنګوالي سره تړوا لري. خان به په ډګر د هیواد نیواک او د دوی پوځې شتون ته د دښمن او ان تر شیطان اړخه پوري کتل، اما خان هیڅ وخت ټولو انګریزانو ته د یو توکم په حیث توهین یا ښکنځلې نه دي کړي. خان د خپلواکۍ په اړه د خپلو مشروع ادعاوو په بهیر کې او د انګریزانو دښمنانه چلنداو موقف سره سره بیا هم په ښکاره توګه واقعاً د انګریزانو په وړاندې د نفرت او کرکې خبرې نه دي کړي :

I ask the English people that our relations will become friendly when you will leave our country. Neither we are at enmity with you, nor do we hate you, we are ready to observe every sort of hardships and are prepared to go to jails.” (Khan, zitiert nach Ramu 1992: 166)

[9] . ۲۲. هغمهال د هند په نیمه وچه کې سپین اروپایان به د پیرنګیان په نامه یادیدل.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

زه ( پوښتنه) غواړم د انګلیس وګړو ته ووایم، زموږ اړیکې به دوستانه شي. چې کله تاسي زموږ له هیواده ووځی، نه موږ له تاسو سره دښمني لرو او نه موږ له تاسو څخه کرکه لرو .موږ د ستونزو هر ډول ځارنې ته چمتو یو او دې ته هم چمتو یو بندیخانو ته لاړ شو. ( د خان له خولې راموليکي په ۱۹۹۲ : ۱۶۶ کې نور وګورئ.)

خان یو ځلې په ډګر او عمومي توګه د انګریزانو په اړوند یوه ښکاره ګواهۍ ورکړ، چې پښتانه د انګریزانو څخه نفرت او کرکه نه لري او نه له دوی سره دښمنیوته لیوالتیا لري. اما پښتانه د خپل هیواد د مشروع ادعاوو څخه نه تیریږي او نه لاس په سر کیږي. تر څو چې دا اشغالي حالت ادامه لري او خپله خپلواکي مو نه وي ترلاسه کړي. پښتانه به په خپل ټول قوت سره او ځانګړي ټینګار سره خپل مقاومت ته دوام ورکړي. څو خپل ارمان پوره نه کړو، انګریزان زموږ ملګري کیدای نشي .کله چې خپله خپلواکۍ مو ترلاسه کړه. د خدایي خدمتګار تحریک د بنسټیز پرنسیبونو پر بنیاد عفه او پخلاینه بایدد پخوانیو دښمنانو په وړاندې پرته له خند او ځنډه څخه تر سره کوي او بیا کیدای شي دوستانه اړیکو ته وده ورکړل شي.

د خان په ویناوو کې هیڅ کله په یوه او بله بڼه کې نه انګریزي ولس ته او نه عیسوي مذهب ته بد رد یا سپکې سپورې ویل شوي دي او نه د ده ویناوو کې د نفرت او دښمنیو څخه ډکې خبرې شوې دي. نو په دې اساس دلته هم د ده په وجود کې د جهانشمولیت عنصرونه جوت لیدل کیږي: په نړیواله کچه د غورځنګ پر خپلځان د باور منتوب جوړښتونه په ښکاره توګه د دې مخنیوني کوي، چې د خپلو مطلقو مشروع ادعاوې او غوښتنو په اساس توندې نااندریزه، هڅونکي ویناوې وکړي او د اشغالګر استعماري ځواک د قومي ډلې یا ولس په وړاندې ودریږي

.

د دویمي برخي پای .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ